مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۰۳/۲۰

# وبـــا

څه داسي ورځي راغلي،
چي انسانان له خپلو دوارو لاسو
داسي ویرېږي، لکه ګورت د جلادانو کي دوه غبرګي تورې
چي یو د بل موسکا نه ځان پټوي
یو بنیادم ته د هر بل بنیادم
خوله داسي ښکاري، لکه توره سمڅه
ډکه له تورو بلاګانو او له رویو یاشیشکو ښخه
هېڅ خوږه غېږه نه شته،
هیڅوک له بل ښخه په مینه متې نه تاووي.
ښارونه تش دي
او د دښتو بیابانونو لاري تولي بندي
یو ناپېژانده دیو راغلی دی د چین له قافه
هره ورځ سل وګړي، زر وګړي
ترستوني تېر کړي، اړرمی وباسي
او بیا د بندو دیوالو ترمنځ ګونډه ووهي
دیو بختور دی،
ښاپېری د " تمدن" ورته بربنډه ناځي.
نړیوالتوب
بېرته په شا روان دی
نړیوالتوب
تر کلیو څه، چي لا کوشنی شو د ځلورو دیوالو تر بریده.
بنیادمان له ساه ایستلو تښتي
فضا دوښمنه ده په دې ورځو کي
او د حوا ابی بچیان له هوا کرکه کوي

*****

څه داسي ورځي راغلي
چي ګتي سرخوړلي
او پانګه توله ده ژوولي د طاعون موړکو
تاریخ له ډېري خندا
دواړه لاسونه پر بېوړو ایښي
له سیاستوالو يې سیاست هېرکړی
هیوادمشران له خپلو ښځو او مېړونو ښخه لرې ګرځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

څه بې توپيره وبا!
هرچېرته، هرځای کې شته
په هرسړک، پرهره لاره
او لا اوښتي ده تر هرې پولې
نه چېرته تور ګوري، نه سپين پوټکی
نه ښکلې ښځه، نه بدرنګه سړی
نه مسلمان او نه کافر، نه يهودي، نه ګبر
نه پر کعبه رحم کوي، نه پر مندر دهيندو
له (روم) نه واوښته، د چين پر ديواله وخته
او پارس يې ټول په هديره بدل کړ
فرعون يوازې دی په (سپين) هرم کې
له خپل توخي، له خپل پرينجي ويرېږي
عجيبه ورځې راغلې
هېڅ معشوقه د خپل مېين پر شونډو شونډې نه ږدي
او ماشومان د خپلو ميندو غېږ کې نه پټيږي
بنيادمان د غرونو، دښتو او ځنګلونو په وحشي غېږوکې
د خپل لرغوني ازلي يوازيتوب په ارمان
"عدم" په خوب کېويني.
آدم غنمو ته په موسکو شونډو
د هغو دوه ورونو کيسه کوي، چې
يو دبل غېږ کې مړه شول
اوس د هابيل او قابيل شخړه نه شته
بس دواړه يو د بل له (ساه) څخه مري
څه عجيبه ورځې دي
پګړۍ يې پرې نه ښودې،
چې يو ځل بيا په ګردوهلو، کنډواله کليو کې
د بې پروا ځوانانو ږيرې لويشت کړي
او که لږ لنډې وي، نو زړه پرې د متروکې يخ کړي
پګړۍ او ږيرې نيمه خوا پاتې شوې
تر ( وبا) روسته نه (جګړه) خرڅيږي
او نه هم (سوله) څوک په بيه اخلي
متروکې ټولې په طاعون ککړې
او ټوپکونه دې خوړلي د (وايروس) چينجيو
هغه ځانبولې پاچا ولاړ، په سينګارتون کې پټ شو.
مرګ په خندا دی، له هستۍ يې جوړه کړې ټوکه
څه داسې ورځې راغلې،
چې د ژوندون مانا يې ورکه کړه
له هروګړي.
داسې وبا راغلله
چې ماشومان نه وژني،
ښايي د دې لپاره
چې دوی رېښتيني دي، سياست نه کوي
ښايي د دې لپاره
چې دوی سپېڅلي دي په دين لا تجارت نه کوي.
.
د ۱۳۹۸ کال روستی ورځ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ